AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۱۷

# غـــزل

نه وايي چي شپه په خير، نه پيغام د ښه سهار
دومره له اشنا سترګو په څه شي غورځېدلی يم؟

کلک مې په لړزانده زړه لاس کېښود چې ته راغلې
ژر مې استغفار کړل، يو ځل وړاندې ويريدلی يم

پوه يمه چې دا مينه مې باسي د بازار له نرخ
وړاندې هم په دې سودا کې څو ځل پرځېدلی يم

ته له زړه مشرک په ما باور څنګه کولی شې؟
زه خو په مسجد، ګرجه، مندر کې ګرځېدلی يم

څومره به نور لاس ټکوي ستا ګرمو اداوو ته
څومره به زه ډک محفل کې يار نه شرمېدلی يم

تېر دور ته ځير شومه، خپله د خپل ځان نه وم
خدای خبر چې څومره به له خپل زړه ځورېدلی يم؟

وينه ګرځومه خو لا وړاندې ستا تر دره ځم
مخکې هم د زړه له زوره څو ځله لوېدلی يم

نه يم کرکټر اوس ان د خپلې کيسې هم سدرو!
ښکاري ژونده! ستا په اوږو بار شان ګرځېدلی يم

۱نومبر ۲۰۲۲/ کابل
سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ